zh | vi | uk | tr | ti | sk | ru | rom | ro | ps | pl | kur | kat | fr | fa | es | en | de | cs | bg | ar

# د خزلو تفکیک او دفع کول

په تفکیک شوي ډول د خزلو او ککړتیاو دفع کول دې ډاډ ترلاسه کولو کې مرسته کوي چې وکولی شو ریسایکل یې کړو یا یې په سم ډول دفع کړو. دا چاره د سرچینو او د اوسېدو چاپېریال ساتنه کوي. د دې موخې لپاره بېلابېل انتخابونه د لاسرسي وړ دي.

## د خزلو لوخی

په تفکیک شوي ډول د خزلو بېلابېل سطلونو کې د خزلو دفع کول د پاتې شویو خزلو د سطلونو څخه کار اخېستنې پرتله کم لګښت لري. ستاسې لپاره، ستاسې استوګنه کې د خزلو لاندې لوخي موجود دي:

- آبي سطل: د کاغذ او کارتن لپاره
- بیو سطل: د بیو او شنو خزلو لپاره
- ژیړ سطل/ژیړه کڅوړه: د سپکو پاکټي ضایعاتو لپاره
- د پاتې موادو ضایعاتو سطل: د پاتې شویو خزلو لپاره

## د ریسایکل لوخي

په ښار کې د ریسایکل خزلو لوخو لرونکي ډېرې ځایونه شتون لري. تاسې کولی شئ شیشه ای بوتلونه او بسته بندۍ په دغه لوخو کې واچوئ او همدارنګه د دغو نږدې نیمایی کې کاغذ او کارتن واچوئ. مهرباني وکړئ پام مو وي د شور له امله، پدغه لوخو کې د شیشې اچول یوازې په ځانګړي وختونو کې ممکن دي.

## د ښاروالۍ د ریسایکل وړ موادو ځایونه

د ښاروالۍ د ریسایکل مرکزونو کې تاسې کولی شئ هغه خزلې او ضایعات وسپارئ کوم چې د خزلو سطلونو او د ریسایکل لوخو کې نه ځایږي. تاسې کولی شئ د هغوی پتې او کاري ساعتونه او دا چې هغوی کوم شیان هلته قبلوي پدې اړه معلومات په www.dresden.de/wertstoffhof کې پیدا کړئ.

تاسې کولی شئ دا شیان وړیا وسپارئ:

- د هرې کورنۍ لخوا په هرو شپږو میاشتو کې تر ځلور متر مکعب حجم لرونکي خزلې او د لرګي ضایعات (کورني)
- تر 25 لیتر ککړ مواد، د PUR جوړښت فوم قطۍ (په استثنا د Leuben، Loschwitz)
- بېټرۍ/د چارج وړ بېټرۍ
- د برېښنايي وسايلو ضايعات، LED لامپونه/د انرژۍ کم مصرف لامپونه، فلورسنټ څراغونه
- کورني ضایعات (د موټر د ضایعاتو پرته)
- د پلاستیک څخه جوړ شوي شیان
- سي ډي/ ډي وي ډي، ویډیو کېسټ
- کاغذي پاکټونه، کارتن، شیشه
- کارول شوی پوښاک او پایزار
- د پرېنټر تش کارټرېجونه/ ټونر کارټرېج
- د واټونو د ونو ښاخونه او پاڼې او د مدني موادو ضایعات
- د کریسمس ونې د دسمبر له پایه تر د جنوري پای پورې

د لګښت په ورکولو سره، کولی شئ دا شیان وسپارئ:

- شنې خزلې
- د موټر زاړه ټایرونه/د ریم پرته
- ساختماني معدني خزلې تر لس لیټر په Leuben او Plauen او تر 500 لیټر په Friedrichstadt او Reick کې
- د اور وژنې کپېسول
- فایل فولډرونه تر 20 قطعې د هرې کورنۍ لخوا (په استثنا د Leuben، Loschwitz، Plauen)

## ستر حجم لرونکي ضايعات/د لرګي ضايعات (دنني)

ستاسې د کور فرنیچر او لوی یا درانده شیان د ستر حجم لرونکي ضایعات دي. تاسې کولی شئ دا او د کور دننه د لرګي ضایعات د ښاروالۍ د ریسایکل مرکز ته وېسئ. هلته تر ځلور متر مکعب او تر نیم کال پورې د هرې کورنۍ لپاره په وړیا ډول منل کېږي. همدارنګه تاسې کولی شئ دې لاندې ورکړل شوي سایټ کې غوښتنه وکړئ چې شیان ستاسې د کور څخه ویوړل شي (www.dresden.de/abfallformulare یا د سپارلو د غوښتنې فورمې له لارې). دا خدمتونه تر ځلور متر مکعب او په نیم کال کې د هرې کورنۍ لپاره موجود دي او باید فیس یې ورکړل شي. د درسدن پاس لرونکو لپاره، په کال کې یوځل د هرې کورنۍ لپاره دا راټولول وړیا دي.

## د برېښنايي وسايلو ضايعات

تاسې کولی شئ د برېښنايي وسايلو ضايعات په وړیا توګه د ښاروالۍ د ریسایکل مرکزونو ته وسپارئ. لوی وسایل، یعني دا چې یو اړخ یې لږترلږه 50 سانتي متر اوږدوالی ولري، تاسې کولی شئ هر نیم کال کې یوځل د خپل کور څخه وسپارئ (غوښتنه د انټرنېټ له لارې په www.dresden.de/abfallformulare کې یا د غوښتنې د کارت له لارې). مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د برېښنايي وسیلې ضایعاتو هرې لوی قطعې لپاره دا خدمتونه لګښت لري. سره لدې، تاسې کولی شئ کوچني برېښنايي وسايلو ضايعات په وړیا توګه وسپارئ.

## مضر مواد

مضر مواد د اوسېدو چاپېریال یا سلامتۍ ته ضرر لرونکي مواد په ځان کې لري او د همدې لپاره د هغوی پاکټ باندې د خطر علامه وي. پدې موادو کې د مثال په توګه د پاکولو لپاره کارول کېدونکي، د عفونیت ضد، حشره وژونکي مواد، د نوکانو د رنګ پاکولو مواد، سیماب لرونکي ترمامیټرونه، د سپرې نیمه تشې قوطۍ، د چارج وړ بیټرۍ او همدارنګه د موټر مبلایل او د پخلي غوړي شامل دي. تاسې کولی شئ تر 25 لیټر پورې د ښاروالۍ ریسایکل مرکزونو کې (په استثنا د Leuben او Loschwitz) وسپارئ. یا دا چې تاسې کولی شئ دا ککړتیاوې د مضر موادو سیار راټولونکو ته ویسئ چې په پسرلي او مني کې د درسدن څخه تېرېږي (نېټې او ځایونه په www.dresden.de/schadstoffmobil کې موجود دي). سپارل وړیا دي.

## شنې خزلې

د چمن رېبلو، بوټو پرې کولو، د ګیاهانو پرې کولو، پخوانۍ ګیاهانې، پاڼې، د خاورې لږ مقدار او د کریسمس ونې شنې خزلې دي. تاسې کولی شئ دا خزلې د ښاروالۍ ریسایکل مرکزونو او د ښار څنډو کې موجود مرکزونو ته وېسئ. د هغوی سپارل لګښت لري. تاسې کولی شئ خپل د کریسمس ونې د دسمبر له پای تر جنوري پای پورې وړیا وسپارئ. یا هم کولی شئ د هغوی د راټولولو ځایونو ته یې ویسئ چې د کریسمس څخه وروسته په ښار کې په لاره اچول کېږي.

## معلومات او مشوره

- د پاتې شونو د معلوماتو تلېفون: 33 96 88 4 (51 03) (دوشنبه – جمعه د 8 څخه تر 12 بجې، سه شنبه/پنجشنبه 13-17 بجې)
- برېښناليک: abfallberatung@dresden.de
- www.dresden.de/abfall

**د خپروونکي ځانګړنې**

خپروونکی
د ایالت مرکز ښار درسدن

Amt für Stadtgrün und Abfallwirtschaft
(د ښاري شنې فضا او د ضايعاتو د مديريت اداره)
Abteilung Abfallwirtschaft/Stadtreinigung
(د ضايعاتو مديريت/د ښار نظافت)
تلېفون (03 51) 4 88 96 33
برېښناليک abfallberatung@dresden.de

Amt für Presse-, Öffentlichkeitsarbeit und Protokoll
(د مطبوعاتو، عمومي اړيکو او تشريفاتو اداره)
تلېفون (03 51) 4 88 23 90
برېښناليک presse@dresden.de

پوست بکس 12 00 20
01001 Dresden
www.dresden.de
facebook.com/stadt.dresden
instagram.com/landeshauptstadt_dresden

د مرکزي اداري د تلېفون شمېره 115 – موږ د پوښتنو سره مینه لرو

د 2024 مارچ

په شرایطو برابر برېښنايي لاسلیک لرونکي برېښنايي اسناد د یوې فورمې له لارې د تحویل وړ دي. علاوه لدې د S/MIME تصدیق سره د ایالت مرکز ښار درسدن ته د رمز لرونکي برېښنالیکونو یا د DE-Mail سره د خوندي برېښنالیکونو د لیږلو امکان شتون لري. پدې اړه نور معلومات دلته شته www.dresden.de/kontakt
د معلوماتو ورکولو دا سند د ایالت مرکز ښار درسدن د عمومي اړیکو د کار برخه ده. لدې څخه د ټاکنیزو تبلیغاتو لپاره ګټه اخېستل مجاز ندي. که څه هم ګوندونه کولی شي لدې څخه خپلو غړو ته د معلوماتو ورکولو لپاره ګټه پورته کړي.

## څه شی د خزلو کوم سطل کې اچول کېږي؟



### د نه ریسایکل کېدونکي پاتي شونو سطل

- روغتیایي محصولات: پیمپر، د غوږ پاکولو ډکي، زیر نیکري، ټامپون، لوند کاغذ/لوند دستمال، لوند تشناب کاغذ
- خاوره، د بریښنایي جارو کڅوره، سره ایره، د سګرټ ستړه
- درمل
- د پیشو توشک، د سپي بولي په کڅوره کې، د کوچنیو ژویو بولي په منرالي توشک کې
- شیشه ای، چیني، سرامیک محصولات، کرستال/آینه/د کړکی شیشه (کم شمېر)
- هډوکي، د کب هډوکي، خام غوښه
- دیوالي کاغذ او کوچني فرشونه
- د رنګ پاتي شوني/د خلا پاتي شوني
- خرابي ټوټي او زاړه پایزار، خرم/د مصنوعي خرم توکي
- بایسکل/کوچني ټایرونه

**نه په: X**

- د بریښنایي وسایلو ضایعات، LED لامپونه/د انرژی کم مصرف لامپونه، فلورسنټ څراغونه
- مضر مواد، بیټری/د چارج وړ بیټری
- ستر حجم لرونکي ضایعات/د لرګی ضایعات (دنني)
- د کور دنني ضایعات



### د عضوي پاتي شونو سطل

- د غذا پاتي شوني او د پخلي په پایله کې د غذایي موادو ضایعات
- زېرمه شوي یا خراب شوي غذایي مواد (د بسته بندی پرته)
- د قهوې، چای ضایعات (د کاغذي فلټر/کاغذي کڅوري سره)
- د کور او باغ شني خزلې: مراوي ګلونه، د ګلدانی بوټي، د ګلدان لږ مقدار خاوره، پاڼي، د چمن ریبلو څخه ترلاسه شوي واښه، لنډ پرې کړي ښاخونه
- د ګیاهخوارو بستر کې د کوچنیو ژویو مدفوع: د اری بور او پروره
- د غذا کم مقدار غوړ/د پخلنځي کاغذ کې جذب شوي د پخلي غوړ

**تېکي او اشاري:**

مرطوب عضوي خزلې د پخلنځي کاغذ یا د ورځپاڼي کاغذ کې وپېچئ. دا کار د بوی د کمېدو او د لوخي د کنګل کېدو مخنیوی کوي.

**نه په: X**

- د خزلو پلاستیکي کڅوره/د خزلو بسته بندی کڅوره، د کمپوسټ ور پلاستیکونه
- کاغذي دستمال، پیمپر
- هډوکي، د کب هډوکي، خام غوښه
- د هر پیشو توشک



### ژیړ سطل/ ژیړه کڅوره

- د مصنوعي موادو تش بسته بندي: د شامپو بوتل د وینځلو موادو بوتل، د ماست لوخی د اوري لوخی، د رنګ سطل، پلاستیکي کڅوري، ګیاهي پلیټ، ټیوب، د کریم لوخی
- تش فلزي بسته بندي: د کنسرو قطی/د رنګ قطی/د سپری قطی، د بوتل سر، المونیمي مجمه/فویل/المونیمي سر
- د سره نښتي موادو څخه خالي شوي بسته بندي: د څښاک کارټن، د سوپ کڅوره، د قهوې واکیوم بسته بندي، د ګولیو پاکټونه
- د بسته بندی مواد: د فوم قالبونه او چیپس، پوکاني لرونکي پوښښ

**تېکي او اشاري:**

تاسي کولی شئ پلاستیکي/فلزي محصولات د ښاروالی ریسایکل مرکزونو ته (په استثنا د موټرو ضایعاتو) ورکړئ.

**نه په: X**

- پلاستیکي محصولات/فلزي محصولات: کاسه، د غذایي موادو د ساتلو لوخی، د اوبو ورکولو قطی، د ګلانو ګلدانونه، چاقو او قاشق پنجې، غلبیل
- د سپری قطی چې خالي شوي نه وي، د PUR جوړښت فوم قطی
- د کاغذ ضایعات، شیشه ای قطی

## څه شی د ریسایکل کوم سطل کې اچول کېږي؟



### آبي سطل

- ورځپاڼي، مجلې، بروشورونه، کتابونه
- د لیکلو کاغذ/د انځورګری کاغذ/د کاپي کاغذ
- ګونجی کاغذ/د بسته بندی کاغذ/د ډالی کاغذ
- کارټن او واړه کړی شوي پاکټونه

**تېکي او اشاري:**

کارټن او کڅوري د غورځولو څخه مخکې ورې کړئ. پدې توګه یې ډېر مقدار په لوخي کې ځایږي. تاسي کولی شئ لوی کارټنونه د ښاروالی ریسایکل مرکزونو ته وسپارئ.

**نه په: X**

- غوړ یا خړب ککړ کاغذ: د پخلي کاغذ/د ډوډی د ورو کاغذ، د پیزا کارټن
- د څښاک کارټن، د سوپ کڅوره
- کاغذي دستمال/د پخلنځي دستمالونه
- انځور، پوسټر، دیوالي کاغذ




### کاغذي ضایعات


- ورځپاڼي، مجلې، بروشورونه، کتابونه
- د لیکلو کاغذ/د انځورګری کاغذ/د کاپي کاغذ
- ګونجی کاغذ/د بسته بندی کاغذ/د ډالی کاغذ
- کارټن او واړه کړی شوي پاکټونه

**تېکي او اشاري:**

کارټن او کڅوري د غورځولو څخه مخکې ورې کړئ. پدې توګه یې ډېر مقدار په لوخي کې ځایږي. تاسي کولی شئ لوی کارټنونه د ښاروالی ریسایکل مرکزونو ته وسپارئ.

**نه په: X**

- غوړ یا خړب ککړ کاغذ: د پخلي کاغذ/د ډوډی د ورو کاغذ، د پیزا کارټن
- د څښاک کارټن، د سوپ کڅوره
- کاغذي دستمال/د پخلنځي دستمالونه
- انځور، پوسټر، دیوالي کاغذ




### شیشه ای قطی

- د تشو شیشه ای قطیو بسته بندي: څښاک، غوړ، سرکه، ساس، عطر
- د کنسرو تشي شیشه ای قطی میوری، سبزیانو، مربا، سپری، اوري، ښوروا قطی

**تېکي او اشاري:**

د شنو، قهوه ای او سپینو شیشه ای قطیو لپاره لوخي شتون لري. نور رنګونه د شنو شیشه ای قطیو لوخي کې اچول کېږي.

مهرباني وکړئ د کارولو وختونو ته توجه وکړئ: دوشنبه تر شنبه د 7 تر 20 بجو

خورا لوی شیشه ای قطی او همدارنګه شیشه ای او سرامیکي محصولات د پاتي شویو خزلو سطل کې اچول کېږي.

**نه په: X**

- شیشه ای محصولات: چاینک، د اوبو ګلاس، ګلدان
- چیني، سرامیک، خټین
- کرستال/آینه/د کړکی شیشه
- د LED لامپونه/د انرژی کم مصرف لامپونه، د فلورسنټ څراغونه